مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۵/۰۹/۲۳

# ډک زړه يې راوړی د بې حسو له مالته دی

ما و ګل کرلی خو ډېر ژر و رژيده
دا د زړه بلبل مې ورته سخت وژړيده

فصل د تناکو مې د ښيو په تل کې شين شو
ټولې وچاودلې خو منزل نه رسيده

بيا سيلی را الوځي او بيا به ډيوې مړې کړي
ځکه، مې څراغ د زړه له ويرې رپيده

شړقنده باران و د کلونو وم بې خوبه
ښنګه ويده شوی وای، ټول چت به څڅيده

روح مې ځوريدلی دی الوت کړي د اسمان په لور
ګوره، له خوښی لکه لوګی و ګډيده

زه هغې صحنې دومره ځپلی يم چې مه پوښتئ
ما به ور کتلې او وطن به نړيده

ډک زړه يې راوړی د بې حسو له مالته دی
خود به د (دوست) قبر هديره کې جړقيده

سنبله ۲۹/ ۱٤۰٤، کابل
نعمان دوست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ